# د پاکستان ورک شوي تاجيکان!

لیکوال: عارف حسن اخندزاده

ژباړن کوونکی: ډاکټر امیر انصاري



د افغانستان په شمال ختیځ او شمالي پاکستان کې د منځني پیړیو ګیبری مملکت د ۱۱۹۰ میلادی کال په شاوخوا کې د تاجیک مسلمان سلطنت په توګه تاسیس شوه، چې د دوو وروڼو لخوا یې په پر له پسی توګه واکمني کیده. سلطان بهرام او سلطان پخل (یا فهکل) ګیبری د سیمه ییزو تاجیک پاچاهانو د یوې پخوانۍ کورنۍ له اولادې څخه وو چې د زردشت دین نه اسلام ته اوړې وو، چې د کنړ (افغانستان) د دره پیچ په مشهوره سیمه یې واکمني کوله. له همدې امله، د دوی تخلص ګیبري شو، چې له "ګیبر" څخه اخیستل شوی، او هغه یوه اصطلاح وه چې د لومړنیو عربو لخوا د غیر مسلمان زردشتیانو لپاره د سپکاوی په توګه کارول کیدی. دا دوه وروڼه د کهجمان د سلطان زامن او د پیچ دره د هندو سلطان اولادونه وو. د دوی کورنۍ دود او دستور ښیي چې دوی د "سکندر ذوالقرنین" یا لوی کوروش اولاده وو - چې شاوخوا ۲۶۰۰ کاله دمخه د ایران د هخامنشی امپراتوری بنسټ اینودونکی و. د ګیبري سلطانان د سلطان جهانګیر وروسته د "د جهانګیري سلطانانو" په نوم پیژندل کیږي، د دې سلطنت یو له وروستیو غړو څخه و چې د هغه د بریالیتوب له امله مشهور شو. د دې سلطانانو بل نوم "سواتي" و ځکه چې د دوی پلازمینه (پایتخت) د سوات په منګلور کې موقعیت درلود.


د ګیبر ایالت د غوري امپراتورۍ (او وروسته د ډیلي سلطنت) یو مهم باج ورکونکی ولایت و. دا په اصل کې له یوې خوا له کابل او هندوکش څخه تر قراقرم او له بلې خوا د جهلم او بارامولا سیندونو پورې غزیدلی و. د پاکستان په خاوره کې باجوړ، مومند، خیبر، کرم، دیر، چترال، بلور (ګلګت)، کوهستان، سوات، بنیر، ملاکنډ او د پېښور دره د کابل سیند شمال ته او د سیند (اباسین) لویدیځ ته (پیښور، چارسده، مردان، صوابی) او د اباسین بلې غاړې ته د هزاره سیمي شاملې وې. د ګیبر ولایت هغه سیمې چې په افغانستان کې واقع وې، د سلیمان غرونه او د هغې لوېدیځې څمکې – کابل، کاپیسا، لغمان، کنړ، بدخشان، ننګرهار او لوګر (اوس د افغانستان ټول ولایتونه دی) د خیبر او کرم ترڅنګ – دغه لوی سرزمین وروسته په بشپړه توګه د جلا جلا ګیبر شهزادګانو لخوا تقسیم شو او دا هغه وخت و چې د امیر تیمور (تیمورلنګ) لخوا پرې برید وشو.

سلطان بهرام په لومړي ځل خپله پلازمینه د پاپین په کلي کې جوړه کړه چې د افغانستان په ننګرهار کې د سپین غر سلسلې (سفید کوه) په څنډه کې موقعیت لري، په داسې حال کې چې د هغه ورور سلطان پخال ختیځ خاوری ترجهلم سیند پورې فتحه او د سوات په منګلور کې خپله اډه جوړه کړه. خو سلطان بهرام ناڅاپه مړشو او زامنو یې یو له بل سره په جنګ او وژلو پیل وکړ. د دوی تره، سلطان پخل، مجبور شو چې پاپین ته لاړ شي او هلته یې د نظم د بیرته راوستلو لپاره له دوی سره جګړه وکړی. هغه بیا د یوازینی واکمن په توګه راڅرګند شو او منګلور د سلطنت دایمي پلازمینه شو چې وروسته د هغه په نوم ونومول شو.

په ۱۳۴۲ عیسوی کال کې، د هندو تر واکمنی لاندې کشمیر د شاه میر (وروسته سلطان شمس الدین) یو بل ګیبری له خوا چې مخکې کشمیر کی میشته شوی وه فتحه شوه، شاه میرورروسته یو جلا پراخه اسلامي سلطنت په کشمیر کی جوړ کړ. د ګبیر اصلي سلطنت بیا په پخلی سرکار (د سوات د سلطنت په نامه مشهور) بدل شو او د کشمیر د لوی سلطنت یو ولایت وشو. دا نوم د سلطان پخل په ویاړ ورکړل شو. وروسته په ۱۳۸۶ عیسوی کال کې، د کشمیر سلطان خپله خاوری نوره پیاوړې کړی او په سهیل ختیځ کې د پوتوهار لویه برخه خپل سلطنت ته اضافه کړی. که څه هم کوم مشخص ریکارډ شتون نلري، د پورشور (پینور) دیوال لرونکی ښار تل د جهانګیري سلطانانو او د هغوی د بادارانو یعنی د ډهلي سلطنت تر کنټرول لاندې و. په افغانستان کې د سلیمان د غرونو لوېدیځ ته د اصلي ګبر سلطنت پخوانی سیمي – کابل، کاپیسا، لغمان، کنړ، بدخشان، ننګرهار او لوګر (د افغانستان اوسنی ولایتونه) – وروسته د ګبیر د شهزادګانو تر واکمنی لاندې جلا شول. د ګبر لومړنی دولت تقریبا د پخوانی ګندهارا په څیر حدود درلود چې د هغی نه بلافاصله دمخه د ګندهارا په نامه یادیدل. دا هم یوه عجیبه تصادف ده چې د پخلی سرکار لوېدیځ پوله د ډیورنډ کرښي ته ورته ده چې اوس یې ځای نیولی ده. دا په معتبره توګه مستند شوي چې چنګیز خان د ګبیر لومبنی سلطنت د تاسیس څخه شاوخوا ۲۸ کاله وروسته د ګبیر د سرزمین نه تیر شی وو.

پرته د کشمیر او هزاره، تر اباسین پورې او د کابل سیند څخه پورته (ګندهارا) د ټولي سیمي کلیوالی نفوس په هغه وخت کې د شلماني او تیراهی تاجیکانو او د دوی اشرافی کروندګرو واکمنانو څخه جوړه وه. داسي ګومان کیږي چې دوی د اسلام څخه دمخه د ایران د لویو امپراتوریو راهیسی د سیمي د پخوانیو اوسیدونکو (بومی خلکو) څخه وو. دَرْدْ (کوهستانیان) پوری ټری خلک هم په سیمه کې موجود وو. د پراکریت ژبي ویونکي (یعني د هندکو ژبي لومړني ویونکي) په ښاري میشتو سیمو کې څنګ په څنګ اوسیدل. دا ډیره څرګنده خبره ده چې په هغه وخت کې تاجیک (په ختیځ کې د فارس یا فارسیوان خلک)، چې اوس واخان او هندوکش کې د دوی دودیز نسبی سیمه ګڼل کیږي، په لرې ځایو کی شتون درلود. دا د دې حقیقت له مخې نور هم تاییدیږي چې ګندهارا د اسلام څخه دمخه شاوخوا زر کاله پرله پسې د فارس امپراتوری لاندې یو "ساتراپي" یا باج ورکونکی ولایت پاتي شوی وو. د فارسي ویلو هغه طریقه چې په هغه وخت کې رواج وه اوس ورکه شوې ده.

همدارنګه په هغه وخت کې په سیمه کې یوه پخوانی پښتني قبیله وه، چې په هغه وخت کې -یوازینۍ موجوده پښتنه قبیله – دلازک وه، چې په ډیره خواره واره کې یې ژوند کاوه. ویل کیږي چې دوی د عیسوی په یوولسمه پیړی کې د شمالي هند د لومړي مسلمان فاتح محمود غزنوي سره جوخت دلته راغلی و. د ډلازاک اکثره افغانان وروسته د یرغلګرو یوسفزیو او د هغوی د متحدینو له خوا – چیرته چې دوی نن صبا اوسیږی – د سیند له غاړې هزاره او چاچه سیمو ته وشړل شول. د دلازک ډیری کسان چې شاته پاتي وو، ډیر احتمال سره خټک قبیلي ته چې د پینور د دره په شاوخوا کې جنوب ته پروت و، خپل هویت بدل کړ.




***د ګبر سلطنت د تاجیکانو تر ولکې لاندې سیمه د دوی د قدرت په اوج کی، د ۱۲۰۰ څخه تر ۱۴۰۰ عیسوی کال پورې.***

اسلام لومړی ځل ګندهارا سیمي ته د محمود غزنوي سره یو ځای راغی، خو په عملي توګه د سواتي ګبري تاجیک د سلطنت په وخت کی اسلام مسلط شو. په هرصورت، د هندوانو او نورو غیرمسلمانانو د پام وړ نفوس شتون درلود. میر سید علي همداني، یو ایرانی دیني روحانی عالم چې کشمیر ته یې اسلام معرفي کړ، د سوات د جهانګیري سلطانانو یو له باوري کسانو څخه و. هغه د باجوړ د سیمي والي ملک خضر علي ګبري په ګبري قلعه کې مړ شو. که څه هم د ټولو حسابونو له مخې ګیبریان سر سخت مسلمانان شوي وو، خو بیا هم ځایي مسلمانه ټولنه د جوړیدو په لوری روانه وه.

په ۱۳۹۸ عیسوی کال کې امیر تیمور (تیمورلنګ) اباسین بلي غاړې ته د پخلی سرکار هزاره ولایت له خپلو سیمو سره یوځای کړ. په دې سیمه کې یې خپل ترکي پوځیان میشت کړل، چې د "پخلي هزاره" په نوم یې یوه کوچنۍ خپلواکه ترکي پاچاهي جوړه کړه، چې تر ۳۲۳ کلونو پورې په واکمن وه. په دې توګه د پخلی سرکار یا سوات پخوانی سیمه د باجوړ، دیر، چترال، ګلګت، سوات، بنیر، ملاکنډ، کوهستان او د پینور وادی ولسوالیو (دیستریکت) ته راتیته شوه – چه د څلورو صوبو په توګه چې پکې باجوړ، سوات، بنیر او هشتنګر شامل وو، اداره کیده.

*تر اباسین پورې او د کابل سیند پورته د تولې سیمې واکمن کلیوالي نفوس شلماني او تیراه تاجیک وو، چې د ایران د سترو امپراتوریو له وخته د سیمې له پخوانیو اوسیدونکو څخه ګڼل کیږي.*

د سواتی تاجیک پخلی پاچاهی حکومت بالاخره د دوو عواملو په نتیجه کی پای ته ورسیده. ګیبري سرزمین ته د افغانستان له سویل څخه راوتلي ډله ایز مهاجرتونه چه د ختیځ سارابانې مختلف پښتني قبیلې – چې مشري یې د یوسفزیو په لاس کی وه – د تیموریانو د سیاسي لمسونو لخوا مهاجرت ته هڅول شوي وه. په همدې وخت کې د فرغانه یو بل تیموري شهزاده ظهیرالدین بابر هم پر هند برید وکړ. په ۱۵۱۹ عیسوی کال کې د دهلي سلطنت نسکورولو او اوه کاله وروسته د مغولو امپراتورۍ د جوړولو لپاره د خپلې ستراتیژۍ د لومړۍ برخې په توګه، هغه د سوات د پخلی سرکار په سلطنت یرغل وکړ او هغه یې فتحه کړه. بیا په ۱۵۸۶ عیسوی کال کې کشمیر هم د هغه د لمسی اکبر په لاس کې نسکور شو. د سراباني پښتني قبیلې چې د بابر له راتګ سره سم د اباسین لوېدیځ سیمې ته په ډله ییزه توګه ننوتلې وې - په تدریجي ډول د سوات د پاچاهۍ په ځمکو کې میشتې شوې او بیا یې په سیمه کې خپله واکمني ټینګه کړه. په دغه وروسته بهیر کی بابر یوسفزیو سره مرسته وکړه ځکه چه بابر د هند د فتح کولو لپاره د دوی مرستې ته اړتیا درلوده. که څه هم د سوات سلطنت په ۱۵۱۹ عیسوی کال کې ړنګ شو، خو د یوسفزیو او د هغوی د متحدینو له خوا د دې سیمې غصب د اویا کلونو په موده کې ترسره شوی. دا بهیر په ۱۴۸۱ عیسوی کال کې د تیموري شهزاده میرزا الغ بیګ لخوا په کابل کې د دوی د قومي مشرانو په قتل عام سره پیل شو چې ختیځ ته یې د دوی ډله ایز مهاجرت پیل کړ. الغ بیګ د بابر د مور تره او د کابل والي و. اوسنی کی ورک شوی شلمانی او تیراهی تاجیک اکثریت نفوس او د هغوی بزګران، چې نه تښتیدلي وو او نه وژل شوي وو، په زوره د نوي پښتني هویت لاندی په دغو قومونو کې جذب شول. د پښتني قومونو په یرغل سره د دوی ښاري کلتور له منځه ولاړ. ډیری تاجیکان غلامان او بزګر برده ګان شول. د دهقان فارسي اصطلاح، چې یو وخت د یو اشراف په معنی وه چې د ځمکي خاوند و، په سیمه ایزو خبرو اترو کې د بزګر یا غلام سره مترادف شو. د تاجیکانو لویه برخه هزاره سیمې ته وتښتید، چیرته چې دوی میشت شو او اوس د هندوکو په ژبه خبرې کوي - او د "سواتي" په نوم پیژندل کیږي. د شلمان او تیراه نومونه اوس هم د خیبر په سیمه کې د ځایی سیمو په توګه شتون لري چې اوس د افریدیانو لخوا میشته دي - کوم چې په هغه ورځو کې شتون نه درلود.



*بابر کلونو مخکې چه ډیلي ته پر مختګ وکړی، باجوړ کې د یو جګړه ایز کمپین په موقع چه په غرنیو سیمو کې د سفر کولو په وخت انځور شوی*

بابر لومړی په باجوړ کې د ګیبرقلعه چې یوه لویه کلا وو برید وکړ او د پخلی سرکار باجوړ صوبې د سواتی والي ملک حیدر علي ګیبري یې وواژه. هغه د ښار ۳۰۰۰ اوسیدونکي هم قتل عام وکړل چې د کلا په دننه کې ژوند کاوه. مغولانو په دې حالت کې د وسلو په کارولو کې خورا ښه تاکتیکي برتری درلوده، ځکه چې په برصغیر کې د لومړی ځل دپاره دوی ټوپکونو وکارول. د بابر بریا په داسې حال کې یقیني شوه چې د شلمانی تاجیک پوځیان د نامعلومو وسلو له آواز او لوګي څخه ویریدلي وو. بابر د دې فتحې توله روښانه او خونړیو توضیحات په خپلو یادښتونو یعنی بابرنامه کې بیانوي. د سوات دره پخپله هم هغه کال وروسته د یوسفزیو لخوا فتحه شوه او یو څه توپیر درلود. دوی د ګدی دسیسې، فریب او تیري څخه په استفادې سره د هشتنګر سیمې (چارسده – مردان میدانونو) والي میر هاندا دهغان له واکه لرې کړ. په ملاکنډ کې خپل کلي تهانه ته د میرهاندا په بیره ورتګ او د سواتي لښکرو کمزور کارکردګي او د هغوی ناکامه دریځ دا یقیني کړه چې د یوسفزیو تعقیب کوونکي قوا تر ټولو ستر انعام - د سوات سرسبزه دره په لاس کې واخلې. یوسفزیو په سیمه کې له ۳۵ څخه تر۴۰ کلونو پورې د مهاجرو او مزدورانو په توګه ژوند کاوه او د سوات له شتمنی او ښکلا سره اشنا وو، دا هغه ځای دی چې دوی اکثره د بوریا پلورلو لپاره تلل. دوی د سوات وروستي واکمن سلطان اویس ته په ماتې ورکولو کې ډیر وخت ونه لګاوه. سلطان خپله پلازمینه یې پرېښوده او د دیر په نهاګ دره کې وتښتید او د "کافر" خلکو په مینځ کې یې پناه واخیسته. سواتیان په بشپړه توګه بی له تیاری نه غافلګیر شوی وو.

په دې توګه، په هند کې د اسلامي واکمنی زوړ ترک-تاجک غوري-خلجي/غلجي-افغان نظام د سوات او کشمیر د ګډو سلطنتونو - او د دوی سرپرست، د ډهلي سلطنت له سقوط سره سم، نظام تیموریانو (مغل) ته انتقال شو. د تیموریانو نظام په ۱۷۴۷ کال کې د سیند لوېدیځ (په افغانستان کې) د افشاري - ابدالي سیستم لخوا بدل شو - په داسې حال کې چې په هند کې دا د انګلیس واک ته د رسیدو دمخه د نورو ۱۱۰ کلونو لپاره په زیاتیدونکي توګه ضعیف او کمزوری پاتې شو.



*د سواتی د منځنیو پیړیو د واکمنې کورنی د تاجک اصل په اړه پوهه د اوږدې مودې لپاره د شفاهي دود په توګه پیژندل شوې.*

دا مقاله به د ډیرو لپاره حیرانونکی وي، ځکه چې په سیمه ایزو اولسی خبرو کې د هیڅ ګیبر صوبه یا پخلی سرکار - یا د تاجیک نفوس هیڅ یادونه نه کیږي. دا په کلی توګه د پام وړ خبره ده، او د تاریخ له نظره هم، دا دیره زاړه دوره نه ده، مګر زموږ د هیواد په رسمي او ملي تاریخي لیکونو کې د هغې بشپړ نشتوالی خورا د حیرانتیا خبره ده - په ځانګړې توګه د پرله پسې ټینګار سره هرچا ته د اسلام د راتګ په اړه یادونه کول، چې اسلام څنګه هند ته ورغلل او څنګه پاکستان د اسلامي نظریه پر بنیاد جوړه شوه. په دې برخه کې د غوریانو یادونه په مکرر ډول کیږي. خو هیڅوک حتی د غوریانو د باجګذار تاجیک سلطنت په اړه هم نه پوهیږي، کوم چې د پاکستان ټولې شمالي سیمې او همدارنګه د افغانستان د شمال ختیځ یوه مهمه برخه پکې شامله وه. د ګیبرسلطنت او د هغه سلطانان د لومړنیو او منځنیو پیړیو مسلمانانو په څو معیاري او سمبولیک تاریخي متنونو کې ذکر شوي دي. په دې کې طبقات ناصري، تیموری توزک، بابرنامه، آیین اکبري، جهانګیرنامه، شاهجهان نامه، عالمګیرنامه او سیر المتاخرین او داسې نور شامل دي. د جهانګیري سلطانان او د هغوی دورې د برتانوي استعمار د مشهورو لیکوالانو لکه میجر ایچ جی راورتی لخوا په ډیر تفصیل سره بیان شوي. خو د نورو عصري اکاډمیک استادانو په مورد، وضعیت خورا بدمرغه ده.

ځینې وختونه حتی داسې بریښي چې د دې میراث او د هغې له مینځه وړلو او قبضه کولو په اړه د پیړیو نه راهیسې یو رسمي "د پټولو توطیه" شتون درلودی. په دې برخه کې یو ښه مثال دا وی چې د دې مسلې په هکله د سر اولف کارو رویه ته اشاره وکړو. د صوبه سرحد (اوسنی خیبر پښتونخوا) لپاره د انګلیس وروستی استعماري والي او یو لوړ پوړی استعماري بیوروکریټ او ستراتیژیک پلان جوړونکی، د هغه کتاب پټهان لا هم د ډیری خلکو لخوا د پښتون قوم او د دوی د تاریخ په اړه ترټولو غوره نړیوال کار ګڼل کیږي. په هر حال د کارو په شان یو هوښیار عالم او استاد، چې ظاهراً همېشه د علم په ډګر کې د خپلې وړتیا د ثابتولو په هڅه کې وو د ګیبري سواتي سلطانانو یادونه په خپل مشهور او شاهکار اثار کې یوازې درې ځلې او هغه هم په اتفاقی ډول سره کړی دی. دا داسې غوندی ده چې استاد کارو یو ډیر پیژندل شوي مقدار ته اشاره کوي چې نور علمي توضیح یا تعارف ته اړتیا نلري. خو په حقیقت کې داسې ښکاري چې دا د بې ګناه فکر پر ځای یوه مکارانه تفکر وه: د پام اړولو او په عین وخت کې د یوې مهمې تاریخي مسلې اهمیت کمولو یوه مکارانه لاره! خو دا د حیرانتیا خبره نه ده، ځکه چې د پټهان د کتاب په څیړنه کې دا په پراخه کچه روښانه کیږي چې د دې استعماري چارواکي شخصي خواخوږي او همدارنګه د هغه بنیاد لپاره چې یې کار کاوه چیرته قرار لري. موږ په ښکاره ډول وینو چې استاد کارو د خپل پټهان کتاب په مقدمه کې یوسفزیو ته هغه وقف کوې او همدارنګه د هغه هیله چې د "اعزازی یوسفزي" په نوم یاد شی – یوسفزی هغه قبیله ده چې د ټولو سراباني پښتنو په څیر

د پښتانه په تياتر کې د انګليسي استعمار ملا تړ وه. له بلې خوا نامتو علمي شخصيتونه لکه د پاکستان تر ټولو نامتو تاريخي صلاحيت لرونکی مرحوم ډاکټر ايچ ايچ ډانی – با وجود د دی چې پخپله د شمالي سيمو سره تړاو لري – د سوات د سلطنت له ذکر کولو څخه ډډه کړې دی، پرته له يو څو جملو څخه چې د يو انګليسي ليکوال څخه يی حواله کړې دی. هغه په لنډه توګه د کشمير د سلطانانو (ګيبري) يادونه کوي، خو د هغوی د تاريخی پس منظر او له سوات سره د هغوی د تړاو څرنګوالی نه يادوي. د دې تاريخ آګاهی د ځايی کليو په غير رسمی شفاهي خبرو اترو او د هغه د بې سواده فولکلور چاپيرياِل کې د يادښت په توګه شتون لري. يا دا تاريخی آګاهی د پټې پوهې په توګه پاتې شو چې د سيمه ايزو کليوالی اشرافو ترمنځ خپريږي او په محتاط ډول بحث کيږي. دا پيښې د يوسفزيو په خپلو دوديزو محلي تاريخونو کې هم په پراخه کچه ثبت شوي دي لکه د حافظ رحمت خاني په تاريخ کې او د معاصر روحانی عالم آخوند درويزه په کتابونو لکه تذکره الابرار والاشرار کې. مګر دا حسابونه، لکه څنګه چې ډير مهم دي، پټ دي او د اصلي جريان څخه ليرې دي، او زموږ په خپل هيواد کې تعليم يافته مخاطبينو لپاره په دسترس کی نه دي، نړيواله مخاطبينو خو لا پريږده.




*د يو يوسفزی جنګيالی انځور*

> *ځينې وختونه حتی داسې بريښي چې د دې ميراث او د هغې له مينځه وړلو او قبضه کولو په اړه د پيړيو نه راهيسې يو رسمي "د پټولو توطيه" شتون درلودی.*

د دې تاريخي پټولو پرته به د دې سيمې تاريخ او کلتور او نور لاملونه په نوي نظر څرګند شي او د هغې په شاوخوا کې اسرار او رازونه او د پښتني قوم تاريخي تحول، د هغه کلتور او د هغې دقيق علمي تعريف – يوه موضوع چې ډير نادر او نيمګړی ده- به حل شي. حکومتداری نظامونه په پرله پسې ډول بدلون مومي او ټولنيز نظامونه تل راځي او ځي. تاريخ اصلاً د دې شيانو په اړه دی. مګر لږ ی حالتونه په الماريو کې د پټ اسکليتونو داسې ميراث لري — او نه د دومره پراخه مودې لپاره. په ۱۰۶۶ کې د نارمن يرغل او د برتانيه د نيولو سره د قوي شباهتونو سره سره، د سوات د سلطنت د نسکوريدو تاريخي بهير د محلي لوبغاړو او د دوی مغل او وروسته برتانوي سرپرستانو لخوا پټ شوی دی. او موږ شايد اټکل وکړو چې بايلونکي نه يوازې د ويره بلکې د شرم له امله هم غلي شوی دي. برسېره پر دې، د نورمن برتانيې شباهت زموږ له اوسني وضعيت سره تړاو نلري، ځکه چې په ۱۵۶۶ کې - ۵۰ کاله وروسته د نورمنانو د فتحی نه - بريتانيا په نړۍ کې د تسلط په لور روانه شوه، په داسې حال کې چې د ګيبری سرزمين د سيمې د اوسيدونکو په اړه ورته پرمختګ نه ليدل کيږی. د برتانيې د نارمن يرغل په خلاف، د سوات د پاچاهی يا سرکارپخلي د سرباني-تيموريانو په لاس ړنګول، ، ډير ناوړه او بدمرغه وه – او د هغې ځينې پايلې لا تر اوسه هم پيړۍ وروسته څرګنده کيږي.



*د واخان سيمې نه هاخوا د تاجيکانو د موجوديت په اړه بحثونه، د اوسني پاکستان په شمالي برخه کې، ډېر کم دي.*

يو بل فکتور چې د يادولو وړ دی - او هغه چی د دې اسرارو په افشا کولو کې خورا مرسته کړې - دا ده چې په تيرو ۱۵ کلونو کې، د جنيټيک جينيالوژی انقلابي ځوان ساينس کې د نه منلو وړ لوی پرمختگونو په پای کې داسې رڼا روښانه کړې چې د پټولو هيڅ پروسه نشي کولای مقاومت وکړی. په پيښور او د سوات دره سيمو کې د تاجيکانو اصلي او "پښتانه شوي" خلک او نسبونه څرګند شوي چيرته چی د دوی د شتون لږ توقع کيدل. همدا راز د اوسنيو واکمنو سراباني پښتني قومونو د اصلي نژاد تر شا حيرانوونکي حقايق هم په ډاګه شوي دي، چې ۵۰۰ کاله وړاندې يې اصلي تاجيک اوسيدونکي تر پښو لاندې کړل او بيا يې پر خپلو اتنيکی افغانانو واکمن شول. نه يوازې دا، بلکې جنيټيکی مطالعاتو، غوري تاجيکان، د بيټني (غلجي) - د افغانستان ترټولو لوی قومي کنفدراسيون - د عنعنوي منبع په توګه تاييد کړې دی– چی په حقيقت کې اوس د پښتنو ترټولو لوی ډله ده او په تاريخي لحاظ ترټولو بريالۍ ترين هم ده. خو دا بله خبره ده...

*آخندزاده عارف حسن خان يو مولف، ليکوال، فعال او د تاريخي مسايلو څيړونکی دی. د هغه تعلق د خيبرپښتونخوا د چارسدې ضلع شبقدر سره دی*